پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۰/۷/۱۳

# بایللی جنګ او د امریکایی سیاستوال وړاندیز

کله چې می تیره ورځ د افغان – جرمن پورتال د خبرونو لړئ پرانیستل ، هلته می په هند کی د امریکا دپخوانی سفیر رابرت بلک ویل له خولی لیکلی څه ترسترګو شول او ویلی یی وه چې امریکا او انډیوالان یی باید دخپلو سرتیرو دخوندی ساتلو په موخه افغانستان په لنډ مهاله توګه پر دوو برخو وویشی . جنوبی برخی یی طالبانو ته پریږدی ، دکابل په ګډون شمال اولودیز کی دجنګ دکټلو ډیاره خپل قوتونه ځای پرځای کړی او له هغه ځایه دی په ازاد لاس دهوایی قوی او کله هم دکوماندو ځخه کاراخلی.
ددی وړاندیز دلوستلو سره جوخت می د (بایللی جنګ) تر سرلیک لاندی د ډنمارکی ژبی ورځبانی (مترو اکسپرس) په ۰۶ / ۰۷ / ۲۰۱۰ ګنه کی یوه لیکنه رایاده شوه چې تیره ورځ می په پښتو ژباړلی او خپل کمپیوټر ته می ور دننه کړی وه. معلومیږی چې دامریکا دی ښاغلی سیاستوال وړاندیز ډیر ناوخته وړپه یاد شوی دی. د ورځپاڼی دلیکنی نه څرګندە ده چې نور دلودیزوالو مورال دجنګ دګټلو نه ډیر وروسته پاته دی. دادی لومړی به نوموړی ژباړه په ګډه ولولو اوبیا به یوار بیا خپلی خبری ته راوګرځو. دلیکنی لیکوال لیکی :
په افغانستان کی هغه مشر جنرال چې باید ستایل شوی وای ، له دندی ګوښه کول شو . زه فکر کوم اوس هغه وخت رارسیدلی دی چې په افغانستان کی دخپل جنګ په اړه ځانونه په واقعتونو خبر کړو او پدی پوه شو چې هلته څه تیریږی. نیوهیرم چې دا جنګ اوس په څه نامه وبولم . بیله دی نه چې د (بایللی جنګ) پنامه یی یاد کړم ، سخته به وی چې لدی نه بل ښه نوم ورته پیداکړم . یو یا دوه کاله وروسته غواړو یا نغواړو موږ به و دی ته اړشو چې خپل قوتونه له افغانستانه را وباسو او وروسته به طالبان یوار بیا په ارامه سره ښارونو ته ور ننوزی.
ما دخپل هیواد دملی دفاع وزیر له خولی اوریدلی دی چې موږ باید له هر څه نه وړاندی پدی باندی ځانونه په ښه توګه ډاده کړو چې دافغانستان خاوره یواربیا دلودیز په وړاندی دبرید په موخه ونه کارول شی. خو زه فکر کوم چې دی موخی ته موږ په اسانه توګه د طالبانوسره دجوړ جاړی دلاری رسیدلای شو، نه د جنګ دلاری. که مو چیری داکار له اوله سره کړی وای اوس به مو لړترلږه د ۳۵ تنو ډنمارکی سرتیرو ځلمیانو ژوند ساتلی وای. دا هم دیادولو وړ ده چې هلته نور د القاعدی تروریستان په زیات شمیر شتون نلری. په لږ شمیر خو که سومالیا ته سر ووهو، هم یی موندلای شو.
دامی هم له سیاستوالو څخه ډیر اوریدلی او تل یی تکراروی چې موږ هلته افغانانوته پولیس اود جنګ وړتیا لرونکی اردو روزو . داخبره هم بیله خوشی اوتو بوتو نه بل څه بللای نشو . داځکه چې افغانان دا وروستنی نژدی دری لسیزی بیله وقفی نه په جنګ کی شکیل دی ، نو یوازنی شی چې دوی پدغه موده کی ښه زده کړی او اوری یی ورسره ښی پخی کړی دی هغه جنګ اوجنګی چاری دی . پدی خاطر نو دوی و دی ته اړندی چې د جنګی وړتیا دپاره یی موږ و روزو. موږ په حقیقت کی ددی خو کالو په موده له دوی نه خپل زده کړی جنګی مهارت هیر کړ چې څنګه د مخالفو وسله والو په وړاندی وجنګیږی (مثل : کارغه د زرکی تګ زده کاوه خپل دا یی هیرشو. ژباړونکی) که چیری موږ کوم شل کاله پخوا دوی و دی کارته روزلای، نو کولای مو شوه ووایو چې : ډیر لایق شاګردان لرو.
که هرڅوهم داخبره به دلته عجیبه وښکاری ، خو پرځای به وی که وواېو چې داجنګ اوس یو بایللی جنګ دی کنه نو موږ به ددی ټولو خبرو سره سره یوازی پدی خاطر داهځه کوو چې په یوه یا بل ډول دجنګ مورال وساتو. داچی اوس امریکایان هڅه کوی د هوایی بمباریو په مټ طالبان دځمکی له مخ نه پاک کړی، دا برسیره پر دی چې ډیره برخه یی د ملکی وګړو ژوند اخلی، دطالبانو په له منځه وړلو کی هم هیڅ دپام وړ رول لوبولای نشی. زما په ګمان دا ډیر بی ځایه کار دی چې ددی ټولو نیمګړتیاوو سره بیاهم موږ ددغه ناوړه جنګ د ارزښتونو په هکله خبری وکړو.
دا هم باید له یاده ونه باسو چې افغانان تل دهر هغه پردی په وړاندی جنګیدلی دی چې وطن ته یی وسله پلاس راغلی دی. داخبره اوس ترلمر سپینه ده چې جنګ نور موږ بایللی دی، خو یوازی دخپل نامه او عزت ساتلو پخاطر پر دغه خبره باندی خوله پټه نیسو.
د ژباړی پای .

د پورته لیکنی تر لوستلو وروسته ته به خپلی اصلی خبری ته بیرته راوګرځو :
داهغه څه دی چې دافغانستان د جنګ په هکله د لودیزوالو اولسونو د نظر څرګندونه کوی . دامریکا نوموړی سیاستوال او په هند کی پخوانی سفیر هم پدی ښه پوهیږی چې د ایتلاف په ټولو ۴۳ هیوادونو کی پورته لیکنی ته ورته ذهنیت دخلګو ترمنځ یو واکمن نظر دی، دولتونه یی هم نشی کولای دتل دپاره سترګی ورنه پټی کړی او اخیر به مجبوره وی چې په پام کی یی ونیسی. دا مقوله هم اوس ودغه ښاغلی ته یقینی شویده چې (افغانستان د امپراتوریو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

قبرستان دی) تاریخ دا ښودلی هری امپراتوری چی کله ځان په افغانستان کی پر ګونډو لیدلی او نور یی دا خبره وزړه تیره شوی ده چی پدی هیواد کی ورته د پاته کیدلو ځای نشته، نو یی پر افغانانو باندی دخپل زړه دسړیدو پخاطر اخیرنی ګوزار ته لیځی رانغښتی او کوښښ یی کړی په تجزیه کولو یی لاس پوری کړی. انګریزانو دافغانانو سره په لومړی جنګ کی تر شرمونکی ماتی وروسته پدی کار لاس پوری کړ اوپه دوهم جنګ کی یی له ماتی وروسته داکار د غچ اخیستلو او خپل دقهریدلی زړه دسړولو دپاره او دبایللی عزت دساتلو په موخه یوازنی لاره وبلل چی د ګوزار زخم یی لا تر اوسه هم دافغان پر بدن ناسور پاته دی. روسانو هم چی کله ځان پرګوندو ولید نو یی د سلطان علی کشتمند په مشری دافغانستان څخه دشمالی ولایتونو د جلاکولو پلان تر لاس لاندی ونیوی خو له نیکه مرغه غل لا ور پوره پرانیستی نه وو چی سهارشو . دا ډول وړاندیزونه ښایی د ذهنیتونو دامادہ کولو دپاره وی او زما په خیال داخبره بیخی له پامه غورځیدلای نشی چی که نن وی یا سبا په یوه یا بل شکل به امریکایی استخبارات داکار تر لاس لاندی نیسی. داسی ښکاری چی ددی کار دپاره یی دامهال ډاکتر عبدالله په نظر کی نیولی دی څو د کشتمند کار تری نه واخلی. دوی غواړی چی داکار د دموکراسۍ تر شعار لاندی په طبعی ډول مخته بوزی. د ډاکتر عبدالله پلانونه چی غواړی دمرکزی دولت دکمزوری کولو او ولایتونو دپیاوړی کولو دلاری وفدرالیزم ته لاره پرانیزی، دامریکا او لودیز والو د لوړو موخو سره مرسته کوی. په همدی خاطر وو چی داولسمشرۍ دټولټاکنو پروخت په یونیما کی د امریکا استازی د کرزی دناکامولو او د عبدالله د رامخته کولو په هیله په بربنډو بیشرمیو لاس کړی وو.

په پای غواړم په لنډو کی ووایم د ایتلاف په ټولو ۴۳ هیوادونو کی دخلګو نظر دجنګ په پلوی ندی او ټول غواړی چی کشالی ته سوله ایزه لاره پیدا شی . ځکه نو حکومتونه اوسیاستوال یی باید داخبره په پام کی ولری چی افغانستان د افغانانو وطن دی او ټول قومونه یی دپردیو په وړاندی یو افغان دی ، په شمال کی هم افغانان اوسیږی او خپل وطن ورباندی ګران دی . لکه هر پښتون چی شاه شجاع ندی ، همداسی هر هزاره کشتمند او هر تاجک کارمل ندی او همدارنګه هر پنجشیری د کا جی بی سره په پروتوکول کی شامل ندی چی بیا نو دخپلو شخصی ګټو دپاره د سی آی ای سره هم جوړ راسی . د افغانستان په شمال کی به هم هیڅوک دوی و خپلسریو ته په ارامه پری نږدی .

په یادی شوی ورځپاڼی کی د ټولو خیر غوښتونکو نړیوالو نظر غبرګون موندلی دی . د حل یوازنی مناسبه او باعزته لاره دمخالفو وسله والو سره د سیاسی جوړ جاړۍ خبره ده چی کیدلای سی پر بنسټ یی هم دافغانانو اوږدی غمیزی ته د پای ټکۍ کښیښودل شی او هم لودیز پدی ډاډه شی چی د افغا نستان خاوره به نور ددوی پرضد نه کارول کیږی . کنه نو دهمدغو طالبانو، همدغه د حکمتیار اسلامی ګوند، همدغه دحقانی ګروپ او لنډه داچی په همدغو شمالی سیمو کی به دتاجکانو، ازبکانو، هزاره ګانو، ترکمنانو اونورو ټولو اوسیدونکو دلاسه هم دوی هلته ارامه شپه سبا نکړی. دهمدغو افغانانو د وینو رودونه به اخر په څپو راشی ،سیلابونه به جوړ کړی او ددوی د تنکیو ځلمیانو تابوتونه به همداسی تر امریکا اولودیزه پوری دهمدغو څپو پر اوږو ورسیږی چی خدای دی وکړی داسی و نه شی او عقل پر احساساتو او زور بازیو باندی غلبه و مومی .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ